انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۱۷/۱۱/۰۱

# د شهید سردار محمد داود
# او ډاکټر محمد حسن شرق ملګرتیا ته یو ځغلند نظر

## (د ډاکټر شرق د لیکنو له مخی)

## پنځمه برخه

دلته بیا هم ډاکټر شرق محمد داود په دی تورنه وی چی د ده او د ده د ملګرو له مشوری پرته او بی له دی چی د منطقی د سیاسی حالاتو نه خبر ولری د ایران د جاسوسی سازمان ته دا اجازه ورکوی چی نه یواځی د منطقی په هکله بلکی د هیواد په کورنیو چارو کی هم ورته د لاس وهلو زمینه برابره کاندی. شرق ادعا کوی چی  د ساواکیانو لوی هدف دا و چی داود له ملګرو نه تجرید شی او بیا سرکوب شی او له بده مرغه دا کار خپله په داود باندی کوی او هغه هم بی له دی چی و پوهیږی د ځان وژنی په لور روان دی. شرق لیکی « ... و نمی شد درباره سوء نیت آنها به محمد داود گذارش داد» که د ډاکټر شرق دا ټولی ادعا ګانی سمی وی نو سړی بی له تشویشه ویلی شی چی: ( واه واه دغه دی هوښیار رهبر).

ډاکټر شرق دا خبره هم په ګوته کوی چی قدیر او یا هغه خوک چی قدیر یی د ساواکیانو سره د خبرو او ملاقات د پاره ټاکلی و (داودخان)، په دی نه پوهیدل چی « تضعیف جمهوریت در افغانستان برای بقای سلطنت درایران موثر و مفیدتر است تا استحکام جمهوریت........ و متاسفانه فهم قدیرخان درتحلیل چنین مواردی نه تنها قد نمی داد بلکه در صف آنهای قرار گرفته بود که انکشاف عجیب و غریب را در افغانستان در رابطه به کمک های ایران و دیگر کشور های خلیج فارس خیال پلو می زدند.»

ډاکټر شرق مخکی دا خبره کړی وه چی محمد داود فکر کاوه چی د ایران سره د رقابت له مخی به د سعودی عربستان او د خلیج د نورو هیوادونو نه د وطن د آبادی د پاره ډیری مرستی تر دلاسه کړی، نو دا خیال پلو بل چا نه واهه بی له محمد داود ځخه. شرق صاحب خو په څرګنده توګه د محمد داود نوم نه اخلی چی د ساده ګی له مخی د ایران په هدفونو نه پوهیږی او حتی په دی خیال پلو کی شپی تیروی چی (بزک بزک نمیر که جَو لغمان میرسد)، خو په مهارت سره دا تور په قدیر خان بیچاره لګوی چی دومره پوهه یی نه درلوده چی د پردی تر شا د ایران په هدفونو وپوهیږی،

هغه دا جرئت نه کوی چی دا تور مستقیماً په رهبر پوری کړی، خو سړی پوهیدلی شی چی قدیر خان چا د ساواکیانو سره د خبرو د پاره ټاکلی و؟

په هر صورت دا د ډاکټر شرق د لیکلو عمومی طرز دی چی ( در به تو میگم دیوار تو بشنو).

شرق صاحب تردی وروسته د داخله وزیر فیض محمد او د رهبر تر منځ د پرچمی ولسوالانو د مقررولو له کبله په لفظی شخړه خبری کوی او داسی و ښای چی هغه پیره شرق په غاړه اخلی، ځکه چس د ولسوالیو بستونه له ۶ نه تر ۳ پوری دی او وزیر په دی بستونو کی د مقرریدو صلاحیت نه لری، په دی بستونو کی د مقرری صلاحیت د صدر اعظم دی چی ډاکټر شرق هلته کار کوی نه فیض محمد.

په همدی بحث کی یوځل بیا په کریم مستغنی او وحید عبدالله باندی حمله کوی او د فیض محمد د خولی نه هغوی داسی یادوی چی ګوندی د هغه انقلابی ملګری همدی کسانو د رهبر له پامه غورځولی دی او رهبر دومره ساده دی چی د پاچا سره د دوی په اړیکو نه پوهیږی. ډاکټر شرق بلاخره دی ټکی ته را رسیږی چی« ....و از همه مصیبت بارتر برایم این بود که آنها از نزدیکان محمد داود بودند و برای پائین انداختنم ازقدرت، اخبار را جعل میکردند که گویا برای سقوط محمد داود دسیسه میکنم اما عبدالاله و عبدالقدیر چرا؟»

دلته که سړی یوځه په غور سره د ډاکټر شرق ادعا ته زیر شی، د ده په ذریعه د داود خان د تعویض مسئله یو ځه حیرانونکی معلومیږی، ځکه هغه وخت هیچا داسی فکر نه کاوه لکه شرق صاحب چی ادعا کوی، بلکی ځومره چی ماته را یاد دی هغه وخت ډیرو کسانو داخبره کوله چی: ډاکټر شرق او د هغه ملګری په ځو دلیلونو د رهبر(محمدداود) د ځپیری سره مخامخ شول.

ـ لومړی داچی دهمدی ډلی د دسیسو او توطئو د جوړولو له مله محمدداود د محمدهاشم میوندوال په ځیر ملی شخصیت او ورسره د محمدداود نور هسی نژدی ملګری چی د ده د جمهوری نظام د تقوی د پاره تری په راتلونکی کی ممکن ښه ګټه اخستل شوی وای له لاسه ورکړل.

ـ دویم داچی د محمد داود په جمهوری نظام کی د همدی ډلی د پراخه ګډون او ستر واک لرلو له کبله د نړیوالو خصوصاً په افغانستان کی د نوو را منځ ته شوو اسلامی ډلو له لوری هغه(داود) هم کمونست و بلل شو او د جمهوری نظام سره په وسله واله توګه مخامخ جګړی ته را و وتل.

ـ او دریم داچی رهبر غوښتل چی د نوری دنیا سره د نیکو او دوستانه اړیکو په را منځ ته کیدو سره، خپل دولت په شوروی اتحاد باندی د زیاتی تکیه کیدو ځخه را وباسی او د خپل ملک د آبادی د پاره د اوه کلنو انکشاف پلانونو د سم او مکمل تطبیق د پاره د نورو هیوادو خصوصاً ایران، سعودی عربستان او د امریکا په شمول د نورو عربی او د خلیج له هیوادونو ځخه د مرستو غوښتونکی شی، چی له بده مرغه د رهبر او د هغه د نورو ملګرو دا تصمیم د ډاکټر شرق او د هغه د چپی یارانو د پاره وظیفتاً د قبول وړ نه و، او غوښتل یی چی د کودتا تش په نامه رهبر د تل د پاره په خپل لاس کی و ساتی، او که د رهبر سره د دوی د لاس نه د وتلو خیال پیدا شی نو بیا باید دولتی قدرت د ( ا،خ،ګ ) ګوند چی د شوروی لاس ځکالی ګوند و ورنقل شی، چی بلاخره هماغسی وشول او د محمد داود په وړاندی د دی ډلی دسیسه چی ډاکټر شرق ورته د ( د جعل اخبار ) نوم ور کړیدی (جعل) نه بلکی ریښتیا ول.

ډاکټر شرق بیا هم د داود خان نه ګیله کوی او وایی چی د ده په دوستی د څو تنو شاه پرستانو او خپله د معزول پاچا په اشارو بی باوره شوی و. هغه وایی چی پاچا د خپلی استعفا نامی په آخر کی داسی لیکلی و « ....از کوداتاچیان برحزر باشند و نویسنده را که بهتر می شناخت به سفارش دیگری به حیث مار آستین خانه دان به محمد داود معرفی کرده بود» ( د اومی برخی ۴ مخ)

زما یادونه:( زه په دی نه پوهیږم چی د دوست او دښمن په پیژندنه کی به محمد داود د ښه استعداد خاوند و او که محمد ظاهر شاه؟ خو که محمدظاهر د خپل کاکا زوی محمد داود ته په خپل استعفا نامه کی په ربښتیا سره هم دا خبره (مار آستین) لیکلی وی نو زه بیا په دی باورمن کیدلی شم چی محمدظاهر نسبت محمد داود ته په دی برخه کی د ښه استعداد لرونکی دی)

ډاکټر شرق د مرکزی کمیټی په جلسه کی د مالی د وزیر سید عبدالاله، د فوائد عامی د وزیر غوث الدین فایق ( چی شرق د هغه په هکله وایی« سنګینی مقام وزارت تعادل فکری و حافظه وی را بر هم زده بود»)، عبدا لقدیر نورستانی او سرور نورستانی تورونه چی حتی ده ته یی د خائن خطاب پکی وکړ، نوره یوه بیکاره اداره ګڼی او وایی: « کمیته که نه چندان دور، بلکی در همان نزدیکی ها، برای یک حمله نظامی جهت تغیر سلطنت به جمهوری تشکیل جلسه داده بود، و سپس بر تقرر رئیس دولت، منشی کمیته مرکزی و اعضای کابینه دولت جمهوری صحه گذاشته بود، اکنون از بی تفاوتی اعضایش در تطبیق صلاحیت های شان روزهای آخر عمرش را می شمرد و در سوگواری نیرومندی و قدرتش گریه میکرد.»

د ډاکټر شرق د دی افسوسونو او ارمانونو نه داسی ښکاری چی هغه دا ټوله پړه په رهبر ور اچوی او وایی چی د رهبر د بی کیفایتئ له کبله د جمهوری دولت مرکزی کمیټه د داسی یوه حالت سره مخامخ شویده چی هر غړی یی د خپل سر پاچا دی او هر یو یی کولی شی چی دا ناپوه او ناخبره رهبر به اسانی سره خپلی لوری او نظر ته راواړوی. هغه بیا په ډیری مایوسی سره وایی: « واقعاً دل انسان به خود انسان میسوزد که به چه هدفی بزرگی (تاسیس جمهوریت) گرد هم آمده بودیم و حالا؟»

هغه دلته رهبر د زړه سوی وړ او دومره بیچاره بولی چی حتی د خپلو ملګرو د کنترول نه هم عاجز شویدی.

تردی خبرو وروسته ډاکټر شرق په ډیره عاطفی بڼه په شاهی کورنی پوری مربوط د (کوټی کول) وړی مانی ته د محمدداود په امر د کوچ کولو، هلته د اوسیدلو، د خپلی ناروغی، د میرمن داود او محمدداود د ورتللو او بیا د میرمن داود په سترګو کی د اوښکو دراتلو (له دی کبله چی شرق د هغی د نازولی ورارہ شهزاده نادر په بستره کی وینی) کیسه کوی. د دی صحنی په لیدو سره ډاکټر شرق ته یوه ویره پیدا کیږی چی رهبر شاید خپله کورنی هیره نکړی او ممکن بیرته د هغی سره یوځای شی، دلته د سردار پاینده خان د کورنی د شهزاده ګانو تاریخی کیسه ورته په یاد ورځی او وایی: « به شهادت تاریخ معمولاً شهزاده گان دودمان سردار پاینده خان، زمانی که جهت کسب قدرت باهم درگیر می شدند دیری نمی گذشت که زیر تاثیر و به وساطت خانواده خویش دستور می دادند که شهزاده مغلوب عفوه و محرکین قضیه (همسنگرانش) اعدام شوند» شرق به دی پسی متصل لیکی: «... ولی با همه صفات نیکوی که داشتند باز هم یک شهزاده و دارای پیوند نا گسستنی با منسوبین شاه و عواطف مشترک خانوادگی با انان بود»

زما یادونه: ( زه په دی نه پوهیږم چی جناب شرق په دا تیرو پنځه ویشتو کلونو کی دی ټکی ته ځنګه نه دی متوجه شوی چی محمد داود او محمد ظاهر شاه د یوی کورنی غړی او لکه د یوه وجود دوه اعضادی چی اوس ورته د پاینده خان د کورنی د شهزاده ګانو کیسه ور په یادیږی؟)

په هر صورت ډاکټر شرق نور دلته په مطلقه توګه په خپل ځانه ځانی دوست محمد داود باندی بی باوره دی او داسی فکر کوی چی که نن وی که سبا د همدی ۲۵ کلن دوست له خوا به په دار و ځړول شی نو ځکه په دی هکله فکر کوی چی ځنګه د هغه نه ځان لری کړی او غواړی چی بل هیواد ته ولاړ شی.

د دآکتر شرق دا بی باوری په محمد داود باندی هغه وخت لاپسی زیاتیږی چی سرور نورستانی ورته وای چی رهبر راته و ویل چی د کارونو د ښه والی د پاره د مرکزی کمیتی د غونډی د جوړیدو په هکله د معاون صاحب (شرق) سره خبری وکړه ، او لا نیم ساعت نه دی تیر شوی چی د جمهوری ریاست د دفتر له لوری په کابینه کی د تغیر او تبدیل خبر ورته په دی توګه په میز اینودل کیږی.

«... طبق هیدایت شاغلی محمد داود رئیس دولت جمهوری افغانستان برای بهبود امور دولتی تغیر و تبدیلی زیل در کابینه دولت جمهوری:

۱ـ سید عبدالاله وزیر، به حیث معاون دوم صدارت

۲ـ عبدالقدیر قوماندان ژندارم و پولیس بحیث وزیر داخله

۳ـ عزیزاله واصفی والی ننګرهار بحیث وزیر زراعت

۴ـ عبدالکریم عطائی رئیس رادیو افغانستان و وزیر مخابرات

۵ـ فیض محمد وزیر داخله به حیث وزیر سرحدات.

عجبا! یک ساعت پیش تقدیر و تمجید از کار حکومت و اینک تر میم کابینه. خدا را شکر که سرم موی نداشت و اگرنه شاخ می کشیدم. زیرا تصور آن هم نمی شد که در ترمیم کابینه کمیته مرکزی جمهوریت نه سهم و نه هم خبر داشته باشد» ( اتمه برخه ۹ مخ)

ډاکټر شرق صاحب دلته په څرګنده توګه دا مونږ ته را ښیایی چی محمد داود خان نور د خپلو ملګرو او هغو سربازانو سره چی دی قدرت ته رسولی، هیڅ ډول مسلات او مشوره کولو ته حاضر نه دی او د ده ډله ورته نور ارزښت نه لری.

د همدی اتمی برخی په وروستیو کی ډاکټر شرق د سیدعبدالاله، عبدالقدیر او غوث الدین فایق له خوا د ۱۳۵۴ کال د دلو او حوت په میاشتو کی د رستاخیز ملی ( انقلاب ملی) په نوم حزب په داسی حال کی چی لاهم په هیواد کی نظامی حکومت برقرار دی جوړوی او وایی:

« و زیبا تر از همه اینکه کمیته مرکزی درجریان واقعه قرار نداشت، اما نام حزب مزکور کوچه به کوچه دست به دست میګشت...» ډاکټر سرق وای چی دا حزب له دی کبله چی اساس ګذاران یی ( د داود خان په ګډون) د هغی پوهی نه چی و کولای شی تولنه رهنمایی کړلی شی بی برخی ول، نو له دی کبله« ازطرف اکثریت مردم با سردی

و بی میلی مواجه گردید وبا وجودیکه اساسنامه آن از جانب رئیس جمهور در سرطان ۱۳۵۶ اعلام گردید، باز هم جز تعداد محدودی از عناصر جاه طلب و دربار زده های مفلوک، کمتر اشخاص دانسته عضویت آنرا می پذیرفتند»

ډاکټر شرق دا حزب د ایران د رستاخیز ملی د حزب کاپی بولی ځکه د دی حزب د مبارزی سرلیکونه هم د کمونستانو سره مبارزی ته توجیه شوی ول.

هغه دلته دا په ګوته کوی چی رهبر نور د همدی ډلی په منګلو کی راګیر دی او هر څه چی همدا دری څلور تنه غواړی رهبر هماغه ډول ګام پورته کوی. او دی حالت ورو ورو دی ته زمینه برابره کړله چی د کودتا او جمهوریت اصلی سرته رسونکی او جوړونکی له رهبر نه فاصله ونیسی، مرور شی بلاخره د جمهوریت د نسکورولو د پاره د نورو سیاسی ډلو سره لکه خلق او پرچم یوځای شی. ډاکټر شرق په حقیقت کی دا ټوله ګناه د محمدداود خان غاړی ته ور اچوی او هغه د خپلو د ټولو هغو ژمنو ماتونکی بولی چی د ده او دده د ملګرو سره یی د جمهوریت د جوړیدو نه د مخه کړی وی.

ډاکټر شرق د همدی بحث په دوام په خپله کابینه کی د محمد موسی شفیق د کابینی د وزیرانو را داخلول یادوی او وایی:« محمدموسی شفیق را همه می شناختند او شخص نبود که به کسانی اعتماد کند و عضؤ کابینه خود بسازد که کمونست و غیر مذهبی باشد» نو مونږ هم د دی د پاره چی څوک را باندی د کمونست ټاپه و نه وهی د هغه د کابینی هغه وزیران چی دده (شرق) سره زیاته پیژندګلوی لری لکه ډاکټر نعمت اله پژواک، محمد خان جلالر، علی احمد خرم و غلام جیلانی باختری( ډیر محققین اوس هم دا کسان کمونستان اویا د کمونستانو پلویان بولی) د وزیرانو په توګه ونیول چی لږه موده وروسته هغوی هم د کمونستانو په نوم تخریبیدل.

**د پنځمه برخه پای**

**دوام لری**